# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

سه شنبه د ۱۳۹۷ د مرغومې څلورمه | د ۲۰۱۸ د ډسمبر ۲۵مه | دویم کال|۳۰۶مه ګڼه


## پر امنيتي تړون د بياکتنې غوښتنه؛
# ولسي جرګه وايي له امريکا سره دې پر امنيتي تړون له سره غور وشي



۳


پاکستان بيا څه لوبه کوي؟ ۲ مخ

سوله؛ فرصتونه او ننګونې ۲ مخ

پاکستان د څه په لټه کې دی!؟ ۳ مخ


## بيدار: ښاروالۍ راتلونکې ولسمشريزې ټاکنې په خپل وخت ونه شي

د ټاکنو خپلواک کمېسيون وايي، ښايي ولسمشريزې ټاکنې وځنډېږي. د دغه کمېسيون کمېشنر رفيع الله بيدار وايي، د ټاکنيزو چارو د لا ښه والي او سمون لپاره ډېر وخت او کار ته اړتيا لري، نو له همدې کبله ښايي راتلونکې ولسمشريزې ټاکنې په ټاکلې نېټه ونه شي.

کابل ته د افغان سولې لپاره د امريکا د ځانګړي استازي زلمي خليلزاد تر لومړي سفر وروسته هم داسې ګنګوسې وې چې له طالبانو سره د سولې لپاره ټاکنې ځنډېږي او ممکن لنډمهالی حکومت جوړ شي. خو وروسته ارګ او خليلزاد دا خبرې رد کړې او افغان چارواکو ويل چې ټاکنې په خپل وخت کېږي.

له هغه وروسته د ټاکنو کمېسيون د ۱۳۹۸ لمريز کال د حمل ۳۱مه د ولسمشريزو ټاکنو نېټه اعلان کړه.

خو اوس بيدار له بي بي سي سره خبرو کې ويلي چې په دې برخه کې له مختلفو ښکېلو اړخونو سره خبرې پيل شوې دي. هغه زياتوي: «له سياسي ګوندونو، څارونکو ادارو او مدني ټولنو او دولت سره چې مالي او امنيتي اسانتياوې برابروي، خبرې کوو».

د نوموړي په خبره، که له ښکېلو لورو سره پرېکړې ته ورسېږي چې د حمل په ۳۱مه ټاکنې ناشونې دي، نو وخت به يې بدل کړي.

بيدار وايي، په راتلونکو ولسمشريزو ټاکنو کې د بايومټريک کارولو لپاره پکار ده چې په هر محل کې د رايې ورکوونکو شمېر له ۶۰۰ څخه ۴۰۰ ته ټيټ شي او په دغه حالت کې به مرکزونه ډېر، کارمندان زيات او بودجه به هم ډېره شي.

## روانه اونۍ به هم د پاتې ۳ ولايتونو لومړنۍ پايلې اعلان نه شي




۵ مخ


## ځېره


۴ مخ


## پيرمحمد کاروان



پيرمحمد کاروان د هېواد له بېلابېلو دولتي او غير دولتي ادارو، رسنيو او موسسو سره دندې تر سره کړې دي او پښتو ژبې او ادب ته يې د پام وړ خدمتونه کړي.

## په ټول هېواد کې له ۲۳۵ زياتې د اوبو لګونې پروژې پلې شوې دي



د کرنې او اوبو لګونې وزارت وايي، سږ کال يې د هېواد په ۳۴ ولايتونو کې له ۲۳۵ زياتې د اوبو لګونې پروژې پلې کړې.

له دغه وزارته په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي چې د اوبو لګونې پروژو پر تطبيق ۲،۹ ميلیارده افغانۍ لګښت شوی چې ۵۱ زره هکتاره کرنيزې ځمکې ورسره خړوبې شوې دي.

د کرنې وزارت په خبره، له دغو پروژو څخه ۱،۲ ميليونه افغانان برخه‌من شوي. تر دې وړاندې به ۵۰ سلنه کرنيزې اوبه د ناسم مديريت له امله ضايع کېدلې، خو د دغو پروژو په پلي کېدو سره د اوبو دغه اندازه ضايعات ۳۵ سلنه راکم شوي دي.

په افغانستان کې ډېری ځمکې د اوبو د نشتوالي له امله شاړې دي او که د اوبو لګولو لازم سيستمونه رامنځته شي، دا به تر ډېره په هېواد کې کرکيله پراخه او د بزګرو اقتصاد به پياوړی کړي.

## حامد کرزی: مسؤلیت روند صلح باید از مردم افغانستان باشد




حامد کرزی، رئیس جمهور پیشین کشور که برای شرکت در یک نشست به چین رفته است، در گفت‌وگو با شبکۀ تلویزیونی جهانی چین می‌گوید که تلاش‌های امریکا برای صلح زمانی موفق خواهند بود که افغانستان سهمش را به گونۀ کامل و مستقل در این روند داشته باشد.

رئیس جمهور پیشین، تأکید می‌ورزد که قدرت‌های منطقه نیز باید در روند گفت‌وگوهای صلح افغانستان صادقانه همکاری کنند.

آقای کرزی، می‌گوید که مردم افغانستان باید مسؤلیت روند صلح را داشته باشند. وی گفت: «ابتکار اخیر ایالات متحده برای صلح در افغانستان تنها هنگامی نتیجه بخش خواهد بود که به گونۀ کامل مردم افغانستان را درنظر بگیرد و آنان مسؤل آن باشند. و نیز همکاری صادقانه از قدرت‌های بزرگ که همسایه‌های مان استند در این راستا دیده شود. به گونۀ مثال چین و روسیه در همسایگی مان ابر قدرت‌های جهانی استند.»

رئیس جمهور پیشین، همچنان نقش سازمان همکاری‌های شانگهای را در مبارزه با تروریزم و رسیدن به صلح در افغانستان مهم می‌داند. وی افزود: «ما خرسند استیم که هر سه قدرت بزرگ منطقه یعنی چین، روسیه و هند بخشی از سازمان همکاری‌های شانگهای استند. پاکستان، کشورهای آسیای میانه و ترکیه و نیز ایران بخشی آن استند و افغانستان عضو ناظر این سازمان است. پس ما این را همچون یک انکشاف مثبت می‌نگریم و آرزو داریم که با همکاری سازنده در این سازمان، افغانستان یکی از نخستین بهره برداران سازمان شانگهای خواهد بود.»

## دریـــځ

# پاکستان بیا څه لوبه کوي؟

د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قریشي پرون کابل ته راغی او دلته یې له چارواکو سره وکتل. نوموړی له افغانستان وروسته ایران، روسیې او چین ته هم سفرونه لري. په کابل کې چارواکي وایي، شاه محمود قریشي ډاډ ورکړی چې د سولې په پروسه کې به مرسته کوي او وسله وال طالبان به له افغان حکومت سره خبرو ته کېنوي. دا په لنډ وخت کې کابل ته د ښاغلي قریشي دویم سفر دی.

پاکستان بیا پر کومه لوبه بوخت دی او د دغو سفرونو موخه یې څه ده؟

د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر وروستي سفرونه د افغان سولې په تړاو بحث دی چې ځینو اندېښنو ته به ځواب وایي. د سیمې هېوادونه د پاکستان له هغه ګام وروسته اندېښمن شول چې طالب مشران یې له پاکستان څخه اماراتو ته بوتلل او هلته یې د افغان دولت او سیمې د هېوادونو له حضور پرته له امریکایي چارواکو سره کېنول. د اماراتو په غونډه کې پر طالبانو سربېره سعودي، اماراتو، پاکستان او امریکا ګډون کړی و. امارات او سعودي هسې د امریکا د محور هېوادونه دي، خو له پاکستان څخه د سیمې د هېوادونو تمه دا وه چې له امریکا سره د افغان سولې په تړاو داسې کومه معامله ونه کړي چې دوی پکې هېر شي. د اماراتو غونډه د روسیې، چین او ایران د توقع خلاف وه او له همدې امله روسیې په ښکاره ټکو د دې غونډې په اړه اندېښنه وښوده. ایران به له دې امله هم اندېښمن و چې سعودي او اماراتو پکې برخه لرله، خو دوی پکې نه وو. چین هم په افغانستان کې د امریکا پر تګلارو شک لري او له روسیې سره د افغانستان د چارو په اړه ګډ دریځ لري. د اماراتو له غونډې څخه افغان حکومت هم اندېښمن شو، ځکه چې په دې غونډه کې له پرله پسې هڅو سره سره بیا هم طالبانو د دوی له استازو سره ونه کتل.

اوس پاکستان له امریکا سره د افغانستان په تړاو په یوه معامله بوخت دی، دې معاملې د سیمې هېوادونه اندېښمن کړي دي. د شاه محمود قریشي وروستي سفرونه هم د همدې لپاره دي او نوموړی به هڅه وکړي چې دا اندېښنې را کمې کړي.

پاکستان د سیمې د هېوادونو ( روسیې، چین، ایران) او امریکایي بلاک ترمنځ دی. د امریکا د فشار په صورت کې سیمې ته پناه وړي، خو له امریکا سره د معاملې پر مهال سیمه هم نه شي هېرولی. اوس ښکاري چې پاکستان د افغانستان په تړاو له امریکا سره په معامله کې دی. دې چارې د سیمې هېوادونه اندېښمن کړي او فکر کوي چې پاکستان یو ځل بیا د خپلو ګټو لپاره پر افغانستان معامله کوي او په دې معامله کې د روسیې، چین او ایران ګټې او اندېښنې هېرېږي. په کابل کې که څه هم چارواکي د قریشي سفر مثبت ګڼي، خو چارواکي اندېښمن هم دي او پر پاکستان باور نه کوي. شاه محمود قریشي به هڅه وکړي چې ایران، روسیه او چین ډاډمن کړي، خو د پاکستان لپاره به ستونزمنه وي چې هم له امریکا سره معامله وکړي او هم د سیمې هېوادونه خوښ وساتي. د افغان سولې په تړاو وروستي بدلونونه به وښیي چې پاکستان دواړه اړخونه خوښ ساتلی شي او یا که به د پخوا په څېر بیا ځان د امریکا لمنې ته وغورځوي.

# سوله؛ فرصتونه او ننګوني



شاه محمود میاخېل
په افغانستان کې د متحده ایالتونو د سولې د انسټېټیوت مشر

دویمه برخه

له ۲۰۰٦ ز کال وروسته د افغانستان اوسنی جګړې بل شکل او رنګ خپل کړ. د افغانستان حکومت او د حکومت پلوي نړیوال ائتلاف چې په سر کې یې امریکا او ناټو ده، غوښتل چې خپل فشار پر طالبانو زیات کړي، څو طالبان ماتې وخوري او د افغانستان جګړه له نظامي لارې وګټي. طالبانو هم د خپلو منطقوي پلویانو او په خاصه توګه د پاکستان په ملاتړ جنګ ته په پوره مقاومت دوام ورکړ. په دې موده کې د حکومت او بهرنیو ځواکونو پر ضد د طالبانو جنګي مبارزې، دوی ته د(Insurgency) یا یو ډول شورشي حرکت مشروعیت ورکړ، ځکه له دې وړاندې امریکا، ناټو او افغان حکومت، طالبانو ته د یوې تروریستي ډلې په سترګه کتل.

په ۲۰۰۹ ز کال کې د امریکا د نوې ادارې جمهور رییس اوباما او ناټو یو ځل بیا هڅه وکړه چې خپلې قواوې په افغانستان کې اضافه کړي، څو طالبان وټکوي او هغوی دې ته اړ کړي چې د خبرو مېز ته کېني. په دې مرحله کې ناټو او امریکایانو که له یوې خوا خپل جنګي فشار زیات کړ، خو له بلې خوا یې د خپلو ځواکونو د وتلو وخت هم تعین کړ چې له ۲۰۱۴ ز کال وروسته به خپل ځواکونه په تدریجي توګه کموي او د افغانستان د مسئلې د حل لپاره به سیاسي لار لټوي. په ټولو جنګونو کې دا معموله ده چې متخاصمې خواوې خبرو او هم جنګ ته په یو وخت کې دوام ورکوي او هر لوری غواړي چې د یو قوي موقف په درلودو سره د مذاکراتو د مېز تر شا کېني او زیات امتیازات ترلاسه کړي. دا چې امریکا د خپلو ځواکونو د وتلو وخت تعین کړی و، نو طالبانو به ویل چې د امریکا په لاس ساعت دی، خو له دوی سره بیا وخت دی او دوی د جنګ د ګټلو عجله نه لري. په دې توګه طالبانو کوښښ کاوه چې د امریکا تر وتلو پورې د جنګ اور تود وساتي. د طالبانو په اند، کله چې امریکایي ځواکونه له افغانستانه ووځي او یا یې د افغانستان له حکومت سره خپلې مرستې کمې شي، د دوی موقف په خپله قوي کېږي او په دې امید وو چې شاید د کابل حکومت ته سقوط هم ورکړای شي.

په دې مرحله کې د امریکا د فشار له امله د طالبانو او د هغوی له پلویانو سره پټې خبرې اترې هم رواني وې او بالاخره د طالبانو لپاره لکه د شمالي ایرلنډ په شان، د سیاسي دفتر په جوړولو موافقه وشوه، څو د طالبانو لپاره د خبرو یو ادرس پیدا شي. په همدې موخه په ۲۰۱۳ ز کال کې د قطر حکومت دې ته حاضر شو چې د طالبانو لپاره سیاسي دفتر ورکړي. امریکا، افغان حکومت او طالبانو دا ومنله او په دوحه کې د طالبانو د سیاسي دفتر پر پرانیستلو توافق وشو. طالبانو هم غوښتل چې د خپل مقاومت لپاره مشروعیت تر لاسه کړي او د جنګ د ختمولو لپاره سیاسي لاره ولټوي، نو ځکه یې له امریکا سره د سیاسي دفتر په پرانیستلو توافق وکړ.

له بده مرغه په هغه وخت کې د افغانستان د پخواني جمهور رییس حامد کرزي او امریکا ترمنځ روابط ډېر خراب وو. د قطر دفتر د پرانیستلو په تړاو دا فیصله شوې وه چې طالبان به د اسلامي امارت د وخت بیرغ نه پورته کوي. د امریکا د حکومت او په خاصه توګه د امریکا د جمهور رییس اوباما له خوا کرزي ته ډاډ ورکړل شوی و چې طالبان به د امارات اسلامي بیرغ نه پورته کوي او هم به د قطر دفتر د موازي حکومت معنی نه لري؛ خو طالبانو د قطر د دفتر د پرانیستلو په وخت کې د اسلامي امارت بیرغ پورته کړ. د دغه بیرغ په اوچتولو جمهور رییس کرزي جدي او شدید عکس العمل وښود او دا یې د افغانستان د حکومت پر وړاندې د موازي حکومت د جوړولو یوه دسیسه وګڼله. د افغان حکومت وېره هم پر ځای وه، ځکه طالبانو د بیرغ په اوچتولو غوښتل چې خپل حرکت ته مشروعیت ورکړي او د موازي حکومت تمثیل وکړي. د ښاغلي کرزي د سخت عکس العمل په ښودلو، هماغه ورځ پس له څو ساعتونو د قطر دفتر په رسمي توګه وتړل شو، خو د طالبانو سیاسي کمېسیون د شیرمحمد ستانکزي په مشرۍ هلته پاتې شو او د هماغه وخت نه راپه دېخوا د قطر دفتر په غیر رسمي توګه د طالبانو د سیاسي دفتر په استازیتوب شتون لري.

د ۲۰۱۴ ز کال د جمهوري ریاست په ټاکنو کې طالبانو په پټه له جمهور رییس اشرف غني نه ملاتړ وکړ او دواړو خواوو له ټاکنو څخه د مخه سره کتلي هم وو چې د قدرت له نیولو وروسته به د سولې خبرو ته لومړیتوب ورکوي. طالبانو دوه عمده شرطونه درلودل چې افغانستان به له امریکا سره امنیتي تړون نه امضا کوي، ځکه دا د سولې پر ځای د جنګ د دوام تړون دی او بله دا چې د اشرف غني حکومت به له طالبانو سره مستقیمې خبرې اترې کوي، نه د پاکستان له لارې. زما د مرکو او بحثونو په لړ کې دا جوته شوې چې هغه وخت د جمهوري ریاست نوماند اشرف غني دغه دواړې وعدې له طالبانو سره منلې وې، خو کله چې اشرف غني قدرت ترلاسه کړ، په لومړۍ ورځ یې له امریکا سره امنیتي تړون امضا کړ. البته جمهور رییس غني هم دلایل درلودل. که امنیتي تړون نه وای امضا شوی، امریکا شاید خپلې مرستې درولې وای او خپل ځواکونه یې له وعدې سره سم په تدریجي توګه د ۲۰۱٦ ز کال په اخر کې ایستلي وای چې دا کار په خپله د نظام د سقوط سبب ګرځېده. په ۲۰۱۴ ز کال کې له سیاسي انتقال سره سم د امنیتي ځواکونو تقویې او اقتصادي انتقال ته زمینه مساعدول ضروري وو، ځکه افغانستان د امنیتي ادارو د تمویل او نظام چلولو لپاره کافي بودجه په بانک کې نه درلوده. د مرستو د ترلاسه کولو او د نظام د ړنګېدو د مخنیوي لپاره د امنیتي تړون قراداد مهم و.

خو په دویمه مسئله کې چې د اشرف غني حکومت له طالبانو سره مستقیمې خبرې اترې باید کړې وای، پر ځای یې له طالبانو سره سوله یوازې د اسلام اباد له لارې ممکنه وبلله او په همدې موخه د پروتوکول خلاف راولپنډۍ ته لاړ او د پاکستان د پوځ مرکزي دفتر یا (GHQ) کې یې د پاکستان د پوځ له مشر جنرال راحل شریف سره وکتل. له بده مرغه چې په مقابل کې یې پاکستاني حکومت د اشرف غني حکومت ته هېڅ امتیاز ور نه کړ او نه یې پر طالبانو فشار راوړ چې د سولې خبرو ته کېني، بلکې جنګونو نور هم شدت پیدا کړ. له امریکا سره پر امنیتي تړون سربېره، طالبان په دې خبره چې اسلام اباد به په خبرو کې د دوی استازیتوب کوي او یا به سوله د اسلام اباد له لارې راځي، سخت خپه کړل او دا یې وپتېیله چې د اشرف غني له حکومت سره به هېڅکله مخامخ خبرې نه کوي او د سولې پر ځای یې جنګ ته دوام ورکړ.

د جنګ د دوام په نتیجه کې د لومړي ځل لپاره کندوز سقوط وکړ او د داعش د ډلې شتون په خاصه توګه په ننګرهار، زابل او هلمند کې پراخ شو. په لومړي سر کې افغان حکومت هم د داعش په ظهور کې یو څه مبالغه وکړه، څو امریکا ته دا وښیي چې که دوی خپل ټول ځواکونه د ۲۰۱٦ ز کال په پای کې وباسي، د داعش نفوذ به زیات شي او دا به افغانستان، د سیمې هېوادونو، نړیوالې ټولنې او په ځانګړې توګه امریکایي ګټو ته جدي خطر متوجه کړي.

د داعش رامنځته کېدو، د سیمې هېوادونه هم له تشویش سره مخامخ کړل چې ګوندې امریکا د طالبانو پر ځای داعش قوي کوي ترڅو د سیمې هېوادونه او په ځانګړې توګه مرکزي اسیا بې ثباته کړي. د شک د تیوریو پر اساس، د جمهور رییس کرزي په ګډون د افغانستان زیات سیاسیون او عوام په دې عقیده دي چې طالب او داعش دواړه امریکایانو رامنځته کړي. د افغانستان پخواني جمهور رییس حامد کرزي په علني توګه ویلي وو چې امریکا طالبان په هلیکوپټرو کې شمال ته انتقالوي، څو د مرکزي اسیا هېوادونو پر ضد د افغانستان شمالي سیمې نا امنه کړي.

د داعش د شتون پراخېدو؛ ایران، روسیې، چین او طالبانو ته جدي خطر متوجه کړ. د سیمې هېوادونو له طالبانو سره اړیکې ټینګې کړې، څو د داعش او امریکا پر وړاندې مقابله وکړي. د دغو تشویشونو له امله، د طالبانو سیمه ییز حمایت هم پراخ شو، خو د طالبانو د اړیکو پراخېدو پاکستان اندېښمن کړ.

پر پاکستان باندې د امریکا د فشار له امله د ۲۰۱۵ ز کال په جولای کې د څلور اړخیزو خبرو(Quadrilateral Talks ) زمینه د افغان حکومت، پاکستان، طالبانو او امریکا ترمنځ اسلام اباد ته نږدې د مري په سیمه کې برابره شوه. په همدغه وخت کې د پاکستان حکومت د طالبانو د مشر ملامحمد عمر د مړینې خبر په غیر مستقیمه توګه خپور کړ. خبر داسې خپور شو چې ملامحمد عمر دوه کاله وړاندې د ۲۰۱۳ ز کال د اپرېل په ۲۳مه مړ شوی، حال دا چې طالبانو په همدغه کال د ملامحمد عمر د مشرتابه ۱۹مه کلیزه ونمانځله او ویې ویل چې ملامحمد عمر په منظمه توګه له طالبانو سره اړیکې لري او د مري خبرو لپاره د طالبانو استازي هم د هغه په مشوره لېږل شوي دي. زما په اند، پاکستان د ملا عمر د مرګ خبر په دې حساسه مرحله کې د دوو موخو لپاره خپور کړ. لومړی دا چې له یوې خوا پاکستان د سیمې هېوادونو او امریکا ته وښیي چې د ملامحمد عمر له شتون پرته هم د دوی په ملاتړ د طالبانو جنګ دوام درلود، نو دوی نه شي کولای چې د پاکستان رول نادیده وګڼي. دویمه موخه د پاکستان دا وه چې په سیاسي لحاظ طالبان کمزوري کړي، څو دوی پر پاکستان متکي پاتې شي.

د ملامحمد عمر له مړینې سره سم د طالبانو نوي مشر ملا اخترمحمد منصور له افغان حکومت سره مخامخ خبرې رد کړې او په دې توګه د مري خبرې له ناکامۍ سره مخ شوې. د ملامحمد عمر په ژوند کې هم افغان حکومت او طالبانو هڅه کړې وه چې د سولې خبرې پیل کړي، خو د پاکستان حکومت دا خبرې هم له ناکامۍ سره مخ کړې وې، ځکه چې په ۲۰۱۰ ز کال کې یې د طالبانو د تحریک مرستیال، ملا برادر په کراچۍ کې ونیو. ملا برادر او د طالبانو څو نور غړي د امریکا د فشار له امله دوې میاشتې وړاندې خلاص شول، څو د سولې خبرې ګړندۍ شي او د اعتماد جوړونې فضا رامنځته شي.

د ملامحمد عمر د مړینې خبر هم د طالبانو حرکت او هم د سولې خبرو ته سخته ضربه ورسوله. د طالبانو رهبري د نوي مشر په ټاکلو کې له ستونزو سره مخ شوه. د طالبانو د رهبرۍ په منځ کې له کشمکشونو، ضد او نقیض نظریاتو او بحثونو وروسته ملا اخترمحمد منصور د طالبانو نوی مشر ومنل شو. ملامنصور نظامي قوت، مالي سرچینو ته لاسرسی او هم یې د پاکستان له نظامي کړیو سره ښه شناخت درلود، په عین حال کې د پاکستان د کنټرول او دسیسو نه هم ښه خبر و. ملامنصور د پاکستان د توقع خلاف، د سیمې له هېوادونو سره او په ځانګړې توګه یې له ایران سره خپلې اړیکې وساتلې چې پاکستان له دې اړیکو چندان خوشاله نه و. ملامنصور د ایران په مرسته له روسیې سره هم اړیکې ټینګې کړې وې. ملامنصور دغه راز له امریکا سره د خبرو اترو چینلونه هم فعال وساتل او دا چې امریکا ته وښیي چې نوموړی پر طالبانو کنټرول لري، نو امریکایي عسکر،(Robert «Bowe» Bergdahl) چې طالبانو په ۲۰۰۹ ز کال کې نیولی و، له ګوانتانامو نه د طالبانو د پنځو بندیانو د خلاصون په بدل کې خوشې کړ. ویل کېږي چې ملامنصور غوښتل چې د سولې په خبرو کې برخه واخلي، خو ډېر ژر ووژل شو. که څه هم پاکستان او امریکا دا نه تاییدوي چې د ملامنصور په وژنه کې پاکستانیانو، امریکایانو ته معلومات ورکړي دي، خو شواهد دا ښیي، کله چې ملامنصور له ایرانه پاکستان ته واوښت، د کویټې د احمدوال په سیمه کې کله چې د ده موټر د ډرون په توغندي وویشتل شو، پاکستاني رسنیو ډېر ژر د ملامنصور پاسپورټ، د ایران ویزه او هم د ډرون په واسطه د ملامنصور د ویشتل شوي موټر عکسونه خپاره کړل. د پاکستان د استخباراتو د معلوماتو له ورکولو پرته دا ممکنه نه وه چې دومره ژر دې د ملامنصور د موټر، د هغه د مړي شناخت او اسناد رسنیو ته وښودل شي، حال دا چې د هغه پاسپورټ او ویزه هم په مستعار نوم وه.

د ملامنصور له وژل کېدو وروسته بیا هم د طالبانو د رهبرۍ په منځ کې د مشرتابه د ټاکلو پر سر جنجالونه پیدا شول، خو بالاخره ملاهیبت الله چې نظامي سابقه یې نه درلوده او د طالبانو له حلقې نه بهر خلکو نه پېژانده، د نوي مشر په توګه وټاکل شو. د دې لپاره چې د طالبانو نوی مشر خپل کنټرول د طالبانو په صفونو کې ثابت کړي، طالبانو بیا هم جګړې ته دوام ورکړ، خو په ضمن کې یې د خبرو چینلونه هم فعال وساتل. زما په اند، د ملامحمد عمر او ملامنصور په له منځه تلو او همدا شان د طالبانو اړیکې له روسیې او ایران سره د دوی سیاسي او دیني مشروعیت کمزوری کړ. له ډېرو طالبانو سره دا پوښتنه ده چې دوی د خپل مشر له مړینې ولې په وخت خبر نه شول او دوی ولې دوه کاله جګړې ته د امیر المؤمنین د نشتون په صورت کې دوام ورکړ.

دوام لري...

# پاکستان د څه په لټه کې دی!؟



شفیق همدرد

د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر په ناڅاپي سفر کابل ته راغی. پاکستاني رسنۍ وايي چې شاه محمود قریشي به د سیمې هېوادنو ته د سفرونو په ترڅ کې لومړی کابل او بیا نورو هېوادونو ته سفر وکړي، خو په داسې مهم وخت کې چې په ابوظبۍ کې د امریکا او طالبانو تر خبرو وروسته ولسمشر ټرمپ د خپلو نیمايي سرتېرو د ایستلو پرېکړه وکړه او بل لور ته افغان حکومت د پاکستان، امریکا او طالبانو پر وروستۍ ناسته جدي ملاحظې لري، د شاه محمود قریشي سفر مهم ارزول کېږي.

د خلیلزاد او طالبانو ترمنځ په وروستیو خبرو کې د مهمو پرېکړو خبرې کېږي، هغه پرېکړې او تصامیم چې افغان حکومت ترې بې خبره او کېدای شي پرې تحمیل هم شي، لکه د زندانیانو ازادول، اوربند ته غاړه ایښودل، د موقت حکومت رامنځته کېدل، د ولسمشرۍ د ټاکنو ځنډ او ځینې نور چې په همدې اړه افغان حکومت کلک غبرګون وښود، لومړی یې د امنیت شورا سلاکار توندې خبرې وکړې، ور پسې د امنیتي بنسټونو مشرۍ ته داسې کسان وګومارل شول چې له پاکستان او طالبانو سره اوږده تربګنې لري.

خلیلزاد په خپله وروستۍ مرکه کې وویل چې له افغان پلاوي سره د طالبانو نه کتنه ښه کار نه و. نوموړی وايي، دا کار د ګډونوالو هېوادنو له لوري هم وغندل شو او له ټولو سره دا اندېښنه پیدا شوه چې طالبان سوله غواړي که هسې وخت تېروي، ځکه د خلیلزاد په وینا د خبرو اصلي لوری افغان حکومت دی او باید خبرې ورسره وشي.

په داسې حال کې چې پاکستان د افغان سولې په خبرو کې تر یوه بریده د امریکا قناعت ترلاسه کړی او کیسه یو ځل بیا د پاکستان په ګټه روانه ده، په داسې حال کې به دغه هېواد کله هم ونه غواړي چې د افغان حکومت اعتماد او باور له لاسه ورکړي، ځکه په دغه حالت کې به امریکایان هم ناراضه او د دوی په کړو زحمتونو به اوبه لاهو شي، نو ځکه شاه محمود قریشي په شنبه سهار کابل ته راغی او ژمنه یې وکړه چې دوی چمتو دي ترڅو د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د خبرو سهولت رامنځته کړي. یعنې قریشي له دغه پیغام سره راغلی و چې طالبان له افغان حکومت سره خبرو ته چمتو دي او دا پرېکړه کېدای شي پر طالبانو د ډېر فشار په ترڅ کې رامنځته شوې وي؛ ځکه همداسې حالت د جهاد پر مهال هم و. هغه مهال د حزب اسلامي مشر نیویارک ته د ملګرو ملتونو غونډې ته تللی و، د امریکا د هغه وخت ولسمشر هیله لرله چې له حکمتیار سره ووینې، خو حکمتیار یې غوښتنه رد کړې وه چې دغه کار ضیاءالحق سخت په غوسه کړی و او خپل د ای اېس ای مشر اختر عبدالرحمان ته یې ویلي وو چې حکمتیار ته ووایه چې تا زموږ دوستان خپه کړل او ورته ووایه چې ته موږ جوړکړی یې او خرابولی دې هم شو! کېدای شي پر طالبانو هم ورته فشار راغلی وي، ګنې قریشي په کوم ډاډ دا خبره کوي چې دوی به طالبان د خبرو مېز ته کېنوي؟

بل لور ته ټاکل شوې چې څو ورځې وروسته پاکستان ته (ای اېم اېف) یا نړیوال بانک دوولس میلیارده ډالره مرسته ورکړي. د دغه قرض په اړه تېره میاشت خبرې شوې او کېدای شي. څو ورځې وروسته بیا په دې اړه خبرې وشي او داسې ویل کېږي چې پاکستان د نړیوال بانک قناعت نه دی ترلاسه کړی او کېدای شي دا مرستې وځنډېږي. په داسې حال کې چې د نړیوال بانک مهم سهم لرونکې امریکا ده او امریکا له پاکستان څخه خپلې غوښتنې لري. د پاکستان د مالیې وزیر اسدعمر وویل چې د نړیوال بانک په ترکیب کې راغلي پلاوي له دوی ځینې سیاسي غوښتنې لرلې چې د ده په وینا پوره کول یې سخت نه دي، خو د پوځ نظر پکې مهم دی. په داسې حال کې چې دا ځل د پاکستان په تاریخ کې داسې ملکي حکومت راغلی چې د پوځ ټول کارونه خپله کوي. په دې مانا، دا ځل په پاکستان کې داسې حکومت دی چې له پوځې هغه سره یې تو پیر نه کېږي، نو ځکه یې پوځ او ملکي حکومت ګډ کوښښ کوي چې له امریکا سره ستونزه حل او د یوځه په تر لاسه کولو سره یوځه له لاسه ورکړي او که داسې ونه شي، وېره ده چې د عمران خان تازه حکومت به له لویو اقتصادي ستونزو او ننګونو سره مخ او پورونه به یې نور هم درانه شي، نو ځکه پاکستان هرې خوا ته لاس اچوي، څو د امریکا قناعت ترلاسه او ځان بیا په ځینو مسایلو کې له امریکا سره شریک کړي.

## پر امنیتي تړون د بیاکتنې غوښتنه؛
# ولسي جرګه وايي له امریکا سره دې پر امنیتي تړون له سره غور وشي



په افغانستان کې د امریکا له اوولس کلن حضور وروسته تازه دغه هېواد پرېکړه کړې چې له افغانستان څخه خپل سرتېرې وباسي، چې یاده پرېکړه د ولسي جرګې او مشرانو جرګې له هرکلي سره مخ شوې ده.

د امریکایي سرتېرو له وتلو سره سره د ولسي جرګې غړي یوځل بیا له امریکا سره پر لاسلیک شوي تړون د بیاځلي کتنې او ان ځینې یې د لغوه کېدو غوښتنه کوي.

د دې جرګې غړي وايي چې له امریکا سره شوی تړون له ملي ګټو سره په ټکر کې دی او د افغانستان اوسني وضعیت ته په کتو سره باید یو ځل بیا پر دغه تړون له سره غور وشي.

د دې جرګې غړي خلیل الله شهید زاده وویل: «څو میاشتې وړاندې ما وړاندیز کړی و چې له امریکا سره دې په شوي امنیتي تړون له سره غور وشي چې متحده ایالتونو د افغانستان پر وړاندې کومې ژمنې درلودې، د شورا اکثریت غړو هم تایید کړ، خو له بده مرغه چې دا څه په اجنډا کې ونه نیول شول.»

د دې جرګې بل غړي عبدالطیف پدرام وویل: «موږ په لومړۍ ورځ وویل چې د امریکایانو حضور دلته اشغالګرانه، وحشتناک او خطرناک دی. د ثبات لامل نه کېږي، د اقتصادي ودې لامل نه کېږي، اوس چې دوی اووه زره سرتېري وباسي، ژر دې ووځي، معلومه ده چې امریکا دلته ماتې خوړلې ده.»

وکیلان وايي چې له امریکا سره د امنیتي تړون تر لاسلیک وروسته، د افغانستان په امنیتي وضعیت کې ښه والی نه دی راغلی او ورځ تر بلې وضعیت د خرابېدو پر لور روان دی.

په ورته مهال وکیلان وايي چې د افغان سولې په تړاو روان مذاکرات د امریکا له لوري پر مخ وړل کېږي چې پر حکومت یې د خلکو باور له منځه وړی دی.

د یادونې ده چې د ولسي جرګې د دوشنبې ورځې غونډې ته د عدلیې او له نشه یې توکو سره د مبارزې وزیران د انکشافي بودجې د کم مصرف له کبله استیضاح شوي وو، چې له رای ګیرۍ وروسته یې پنځوس جمع یو رایې پوره او یو ځل بیا پر خپلو دندو پاتې شول.

# امانویل مکرون: له سوریې د امریکایي ځواکونو د وتلو په اړه د ټرمپ پرېکړې خواشینی کړی یم

د فرانسې ولسمشر امانویل مکرون ویلي، د ټرمپ پر وروستۍ پرېکړه چې له مخې به یې امریکایي ځواکونه له سوریې وځي، ډېر خواشینی دی.

نوموړي په چاد کې یوه خبري کنفرانس ته وویل، ټول متحدین باید پر یوه او بل اعتماد ولري.

مکرون دغه راز د چاد له ولسمشر ادریس دبي سره په ګډ خبري کنفرانس کې د امریکا دفاع وزیر جېمز متېس وستایه چې د یو نیم کال په موده کې یې د باور وړ شریک و.

نوموړي زیاته کړه: «زموږ د امریکایي متحدانو د موضوع په اړه به ووایم چې په سوریه کې د دوی د پرېکړې په اړه سخت خواشینی یم. غواړم د امریکا د دفاع وزیر جنرال متېس او د هغو څرګندونو قدرداني وکړم چې د خپلې استعفا له پرېکړې سره هممهاله یې کړې دي.»

دا په داسې حال کې ده چې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ تېره شنبه د خپلې پرېکړې په دفاع کې خپله خبره بیا تکرار کړه چې ګواکې په سوریه کې د اسلامي دولت ډلې یا داعش ماتې خوړلې، نو له همدې کبله باید امریکایي پوځیان له دغه هېواد څخه راووځي. د دې پرېکړې تر اعلان وروسته د امریکا دفاع وزیر جېمز متېس هم له خپلې دندې استعفا وکړه.

ډېرو پوځي رهبرانو ویلي چې له سوریې څخه د امریکایي ځواکونو وتل به د سوریې له عرب او کرد متحدانو سره خیانت وي. د امریکا په مشرۍ ائتلاف د داعش پر وړاندې په مبارزه کې د دغو جنګیالیو ملاتړ کاوه.

خو تازه ترکیې هغو سیمو ته د داخلېدو خبرداری ورکړی چې د کرد ډلو په کنټرول کې دي.



انقره وايي، دغه ډلې په ترکیه کې د کردانو له بېلتونپالو سره ارتباط لري. له سوریې د امریکایي ځواکونو د ایستلو د پرېکړې په اړه د فرانسې او جرمنې په ګډون د ناټو نورو متحدانو هم اندېښنه ښودلې ده. دوی ویلي، په ناڅاپي ډول د امریکا د جهت دغه بدلون به د داعش پر وړاندې روانه مبارزه په خطر کې واچوي.

د یادونې ده چې داعش ډله د سوریې او عراق له زیاتو برخو ایستل شوې، خو لا هم پر ځینو وړو ساحو ولکه لري.

## د کتــاب خبــرې

# د لوی فکر جادو

- لیکوال: دوکتور ډېوېډ شوارتز
- ژباړن: میراحمد یاد

**لومړی څپرکی**
**پر خپل بري باور ولرئ:**




پایلې. د ځان جوړونې د درېیمې او مهمې برخې په اړه به لنډ ووایم: که په دې کتاب کې ښودل شوی پلان (برنامه) مو په جدیت عملي کړ، نو بریا مو تضمیني ده. ښایي په دې پلان اوس باور و نه شي، خو که دا د ځان جوړونې برنامه تجزیه او تحلیل شي، نو پوهېږو چې دا برنامه یو لړ ښې پایلې لري: د کورنۍ له خوا ډېر درناوی، د همکارانو او ملګرو په نظر لیاقت او وړتیا، د ګټورتیا احساس، اعتبار لرل، ځان ته په ارزښت قایلېدل، لوړ عاید او د ژوند لوړه کچه.

د ځان جوړونې پروسه خودجوشه ده، څوک درته نه وایي چې دا وکړئ او دا مه کوئ، دا کتاب مو لارښود دی.

یوازې تاسې خپل ځان درک کولای شئ او یوازې تاسې ځان ته د دې لارښوونو د عملي کولو امر کولای شئ. یوازې تاسې خپل پرمختګ ارزولای شئ. که لږ وښویېدئ، یوازې تاسې کولای شئ چې خپله لاره بدله کړئ، لنډه دا چې بریا ته د رسېدو لپاره وروستۍ او نهایي پرېکړه همدا تاسې کولای شئ.

تاسې د کار او مطالعې لپاره تل یو ازمېښتون (لابراتوار) درلود او لا یې هم لرئ. دا ازمېښتون ستاسې شاوخوا چاپېریال دی او له بېلابېلو انسانانو جوړ دی. په دې ازمېښتون کې بېلابېل انساني چلندونه لیدل کېږي. که تاسې په دې شخصي ازمېښتون کې د څېړونکي په حیث په کار بوخت شئ، نو د زده‌کړې په برخه کې به هېڅ خنډ او محدودیت و نه لرئ. بله دا چې لګښت هم دربانديې نه راځي، نه کرایه ورکوئ، نه څوکیدار شته، نه برېښنا مصرفېږي. تاسې کولای شئ چې له دې ازمېښتونه په وړیا، د خپلې خوښې په اندازه ګټه واخلئ. تاسې هم په خپل ازمېښتون کې هغه څه کوئ، چې ټول څېړونکي یې کوي او هغه: مشاهده او تجربه ده.

تاسې ته دا جالبه نه ده چې خلک ټول عمر له نورو خلکو سره راشه درشه کوي، خو بیا یې هم له علت او غبرګونه بې خبره وي؟ زیاتره خلک لیدونکي نه دي. د دې کتاب یوه موخه دا ده چې تاسې د انساني چلند په لیدلو او د خپلې مشاهدې په قوت کې ښه مهارت ترلاسه کړئ. له ځانه پوښتنه وکړئ چې مثلاً، فلانی کس ولې دومره بریالی دی او هغه بل کس ولې خپل وخت ضایع کوي؟

ولې یو کس ډېر ملګري لري او بل کس یوازې دی؟ ولې خلک د ځینو خلکو خبرې په خوښۍ مني، خو که همدا خبرې ورته بل څوک وکړي، هېڅ ارزښت نه ورکوي؟

ازمېښت مو چې پیل کړ، بیا به له واړه کار (مشاهدې) لوی سبقونه اخلئ.

دلته درته دوه وړاندیزونه شوي او دا وړاندیزونه درسره په دقیقه او ځیرکه مشاهده کې مرسته کوي. په خپلو ملګرو او خپلوانو کې دوه ډېرې بریالۍ او دوه ناکامې الګوګانې د ارزونې لپاره وټاکئ. بیا د کتاب د لوست پر مهال وګورئ چې دا بریالۍ الګوګانې تر کومه حده وړاندې شویو اصولو ته ژمنې دي؟ بیا وګورئ چې دا دوه اړخیزه ارزونه څنګه د دې لامل کېږي چې تاسې دې د حقایقو د پیروۍ پر حکمت پوه شئ.

له نورو سره هر ډول اړیکې تاسې ته دا امکان درکوي چې د هغوی په کړو وړو کې د بریا اصول ووینئ. تاسې هڅه وکړئ چې د بریا دا اصول خپل عادت وګرځوئ. تاسې چې هرڅومره تمرین کوئ، دا عمل به هومره زر ستاسې د خوی او عادت برخه ګرځي.

موږ زیاتره داسې ملګري لرو چې د بوټو او ګلانو له ساتنې سره مینه لري او زیاتره وخت وایي چې: (د دې ګلانو وده څومره خوند کوي، خاورې له اوبو سره څنګه روانې دي، څنګه غبرګون ورته ښیي او وګورئ چې له تېرې اونۍ راهیسې څومره لوی شوي دي!) د انسان او طبیعت د دوستۍ پایلې خوندورې وي، خو که چېرې انسان د ځان جوړونې، خودجوشه ودې او په فکر پالونکې برنامه کې خپله وده ووینې، نو د هغه طبیعت له خونده څو ځله ډېر خوند به ورکړي. دا به څومره خوند کوي چې انسان په دې برخو کې ورځ تر بلې او میاشت تر بلې خپله وده ګوري. پر ځان باور، په نورو کې نفوذ او بریا ته رسېدل. په دې دنیا کې تر ټولو خوندور او ارامونکی شی دا دی چې تاسې د بریا او نیکمرغۍ پر لاره ګام واخلئ او د بریا څوکو ته رسېدل بیا دومره خوند نه کوي، څومره خوند چې د انساني وجود د جوهر په موندلو کې دی.

**دویم څپرکی**

**له "ماتې منلو» او «بهانې لټولو» سره مبارزه وکړئ**

که ځان بري ته چمتو کوئ، باید خلک مطالعه کړئ. د دې کار لپاره خلکو ته په پوره دقت پام وکړئ او بریا ته د رسېدو اصول او قوانین پکې کشف کړئ. بیا دا کشف کړي اصول او قوانین په خپل ژوند کې عملي کړئ، خو ښه خبره دا ده چې همدا اوس لاس په کار شئ.

د خلکو پېژندلو په لړ کې به پوه شئ چې (ناکام) خلک یوه ناروغي لري او دا فکري ناروغي د دوی ټولو فکرونه خرابوي. موږ دا ناروغي (بهانې لټول) نوموو. ټول ناکام خلک د دې ناروغۍ له پرمختللې او ټول منځنې خلک یې له خفیفې بڼې رنځېږي.

دې ته به مو هم پام شي چې (بهانه لټول) د فعالو او هغو خلکو تر منځ د توپیر دلیل دی، چې په خپل اوسني کار پورې کلک نښتي وي او ټول عمر ورسره د کار بایللو وېره وي. په دې به هم پوه شئ چې انسان څومره بریالی وي، هومره به یې عذر او بهانې لږې وي. **دوام لري...**

# پیرمحمد کاروان

جواد تیموري



د پښتو ژبې نومیالی معاصر شاعر او لیکوال پیرمحمد کاروان د نور محمد زوی دی چې د خوست ولایت د تنیو ولسوالۍ د نریزې په کلي کې زېږېدلی دی. نوموړي خپلې لومړنۍ زده کړې د نریزې کلي په لومړني ښوونځي کې تر شپږم ټولګي پورې کړې دي. د ښوونځي د درسونو ترڅنګ یې په ماشومتوب کې قران کریم او څو نور دیني کتابونه لکه، خلاصه، منیه هم لوستي دي.

د سعدي ګلستان نومی مشهور کتاب یې هم لوستی چې څه ناڅه یې د نوموړي د شاعرۍ مینه په هماغه ماشومتوب کې پیاوړې کړې ده. هغه د پښتو د فولکلور او په تېره بیا له افسانو سره ډېره مینه درلوده. د ښاپېریانو او نورو مینانو ډېرې کیسې یې یادې وې او خپلو همزولو ته به یې هر وخت ویلې. پښتو لنډۍ او د پښتو داستانونو او نکلونو منظومې نارې یې ډېرې خوښېدې، ډېرې یې ان په کوچنیوالي کې په یاد وې. دوولس یا دیارلس کلن به و چې څه ناڅه منظومې جملې یې جوړولی شوې. دا منظومې جملې به یې په ولسي فورم او یا د لنډیو په شکل جوړولې.

کاروان د خپل ځان په اړه وایي: «کله چې ماشوم وم، د سهار تر لمانځه وروسته به مې له ملا نه د دیني کتابونو ترڅنګ د سعدي ګلستان لوست چې ماته به یې ډېر خوند هم راکاوه. زما استاد مومن خان نومېده، خدای دې یې وبښي. نوموړی زما د پلار له ماماخېلو څخه و. یوه ورځ په ګلستان کې د یوه خواږه شعر بیتونه مخې ته راغلل، کله چې ملاصاحب په پښتو راته تشریح کړل، په هماغه ماشومتوب کې یې سخت خوند راکړ. په هغه وخت کې به چې زه سبق ته تلم، د ماشومتوب له شوخۍ نه هم په امان نه وم. په بډه کې به مې لینده راسره وه. کله به چې له سبق نه د خپل کور په لور را روان شوم، نو لمر به پر کلي سر وهلی و. په لاره کې به مې په بامبوټیو او ونو کې مرغۍ ښکار لې چې ګوندې یوه خو پکې وولم. په همدې سهار چې زه د سعدي د عاشقانه او مفکرانه شعر تر اغېزې لاندې راغلی وم، ګورم چې د ملاصاحب د کور ترڅنګ د انځر په ونه کې د مرغۍ بچې ناست او د لمر لومړنۍ ځړیکه یې په ښکو لګېدلې وه. دا منظره د سعدي د شعر غوندې ښکلې وه. د ماشومتوب شوخي مې په زړه کې را وپارېده، ما ویل راځه هلکه لینده له بډې پسې را وباسه او دا د مرغۍ بچی داسې پر دې ګېډه باندې وولـه. ژر ژر مې دیني کتابونه او د سعدي ګلستان کېښودل او له بډې مې لینده پسې را ویسته. کله مې چې په لینده کې ګاټې واچاوه او د ویشتلو په نیت مې راکش کړه، د مرغۍ بچي منښوکه په وزر کې وهله او پر ښکو یې هماغسې د لمر وړانګې لګېدې. یو نیم اواز یې هم کاوه. په اواز کې یې عاجزي او بې کسي معلومېده. د سعدي صاحب شعر را په یاد شو، د مرغۍ بچی یې را باندې ګران کړ. په سترګو کې مې اوښکې راغلې او د مرغۍ د بچي ویشتل راته لویه ګناه وبرېښېده. هغه وو چې له لیندې مې بېرته ګاټې وغورځاوه، لینده مې بیا په بډه کې کېښوده او د لارې پر سر اېښې کتابونه مې را واخیستل. داسې زما د ماشومتوب دوره له عجیبو خوږو او ښکلیو شاعرانه خیالونو سره غاړه غړۍ تېرېدله.

له شپږم ټولګي پسې فارغ شوم. په اول کې خوشحاله وم چې هلکه توره دې وکړه دا دی په کلي کې دې مکتب تمام کړ، اوس نو خپلې مرغۍ ولـه او د ښاپېریانو نکلونه اوره. تر یوڅو ورځو مرغیو ویشتلو او خوشې ګرځېدلو ستړی شوم. د مکتب ارمان راغی. په خپلو همصنفیانو پسې خپه شوم، خو څه مې کړي وای. په کلي کې تر شپږم ټولګي ور هاخوا مکتب نه و چې ما پکې نور سبق ویلی وای. یوه ورځ همداسې د مرغیو د ویشتلو په لټون راوتی وم، په یوه ونه کې مې ناسته مرغۍ ځارله چې پلار مې راباندې غږ وکړ او د ځان خواته یې ور وبللم.

مرغۍ د ونې له څانګې والوته او زما په زړه کې د مرغۍ ویشتلو تلوسه همداسې غوټه پاتې شوه. د پلار خواته ورغلم. د پلار په مخ کې مې خوشحالي برېښېده. زه هم خوشحاله شوم او په زړه کې مې ګوړې ماتولې چې پایې کوم ښه شی راته ساتلی او پابه یې ښه زېری راوړی وي. پلار مې په خندا اوخوشحالۍ راته وویل: څنګه زړه دې دی چې نور سبق ووایې؟ ماپه منډه ځواب ورکړ، هو ولې نه.

پلارمې وویل چې داسې ده، نو راځه چې له مکتب نه کاغذونه درته واخلم، سبا بل سبا به دې خوست ته بوځم، هلته به په مکتب کې سبق وایې. ما ورته وویل، نو په خوست کې به چېرته اوسېږم؟ پلار مې د خپلو ترو زامنو راته وویل چې هغوی په ډېره مینه راته ویلي چې تا ور ولم. زه خوشحاله شوم. په ذهن کې مې د ځلوبیو او خربوزو بوی را وګرځېد او یو پټ خوند مې ترې واخیست.

خوست ته راغلم، د خوست په پنزایه کلي کې د پلار د تره زامنو کره اوسېدم. پر ټولو ګران وم. د خپل اولاد غوندې یې راسره مینه وه. په ماشومتوب کې د لېونۍ مینې تر بریده دینداره وم. همېشه به مې د قران تلاوت کاوه، ځکه خو پر خپلوانو مې ګران وم. د خوست په غرغښت لېسه کې شامل شوم. کلی به مې ډېر یادېده، مورجانه به مې تل په زړه کې وه او په وړې خور پسې مې ډېر خپه وم. بیا هم په درسونو کې بد نه وم. تر نهم ټولګي په غرغښت لېسه کې وم. کله چې لسم ټولګي ته کامیاب شوم، نو د خوست د میخانیکي لیسې د امتحان خبره مې واورېده، د خوست میخانیکي لیسې ته مې امتحان ورکړ. د امتحان صحنه ډېره عجیبه وه، د خوست د میخانیکي لېسې په میداني کې تر دنګو دنګو ونو لاندې امتحان ته ناست وو. اول ځل و چې د امتحان سوالونه د یوه کتاب په شکل چاپ شوي وو. د یوه سوال به درې یا څلور ځوابونه وو. بس تر سم ځواب به دې کرښه راکاږله چې دا څنګه مې ولوستل، سر مې پرې خلاص شو، حل کولو ته یې ولګېدم. څو سوالونه مې داسې په منډه حل کول چې د امتحان له هیئت نه یو تن زما پارچې ته وکتل. په شونډو کې موسک شو. زه یې له څېرې پر دې وپوهېدم چې که خدای کول د سوالونه ځوابونه مې سم دي. په زړه کې خوشحاله شوم او د پاتې سوالونو ځوابونه مې پیداکول. څو ورځې وروسته زه د غرغښت لېسې په لسم ټولګي کې ناست وم چې د خوست میخانیکي لېسې د کامیابو شاګردانو لېست راغلی و. زموږ معلم ته چې کامیاب هلکان معلوم شوي وو، ډېر خوشحاله و. د کامیابو شاګردانو د نومونو تر اخیستلو وړاندې یې وویل، زه ډېر خوشحاله یم چې سږکال د خوست میخانیکي لېسې ته داسې شاګردان کامیاب شوي چې د واسطې او د پیسو زور نه لري، دوی په خپل لیاقت کامیاب شوي. مخکې له دې چې زه یې نومونه واخلم، ټولو ته مبارکي وایم. په دې وخت کې زما زړه لکه پاڼه داسې رپېده. نه پوهېدم چې کامیاب به یم کنه؟ په زړه کې مې قوت پیداکاوه چې که خامخا کامیاب نه وم، نو خپله اراده باید ونه بایلم. په سترګو کې مې اوښکې رانه شي او د خپلو همصنفیانو پر وړاندې ونه شرمېږم. په دې وخت کې معلم صاحب د کامیابو شاګردانو د نومونو په اخیستو پیل وکړ. زموږ له صنف نه ډېرو کسانو امتحانونه ورکړي وو. زما غوندې بې واسطې کسانو هم او د واسطو ولاوو هم. معلم له یوه دوو نومونو وروسته زما نوم واخیست.

له ډېرې خوشحالۍ نه مې په سترګو کې اوښکې راغلې او همصنفیانو مې چکچکې راته وکړې. ډېر خوشحاله وم. په ماشومتوب او زلمیتوب کې خوشحالي او بریالیتوب نو بېل کیف لري. د خوست میخانیکي لېسې په لوستلو مې پیل وکړ. ما په امتحان کې د برېښنا څانګه ټاکلې وه. وروسته مې د ماشین کارۍ څانګې ته ځان را بدل کړ. په دې لېسه کې به یې موږ ته د غرمې ډوډۍ هم را کوله. ښه په شوق به درسونو ته ورتلم. ذهن مې بد نه و، که لږ کوښښ مې کولی، ډېر به تکړه شوی وای، خو زما به د مکتب د کتابونو پر ځای د شعر او هنر کتابونه ډېر لوستل. په همدې وخت کې به مې هم څه جملې منظومولې. کله کله به مې د هغو همصنفیانو، مسافرو وروڼو او عزیزانو ته چې په دوبۍ، قطر او سعودي عربستان کې مسافر وو، لیکونه لیکل. په دې لیکونو کې به مې لنډۍ او ځینې زما له خوا جوړشوي شعرونه لیکل او بیا به دوی ته استول کېدل. پر همصنفیانو ګران وم. پر ما هم ګران وو. ځینې خو لکه وروڼه داسې راته اېسېدل. له هېچا سره مې داسې خاصه کینه او کرکه نه وه. لنډه دا چې په ۱۳۵٦ لمریز کال کې له خوست میخانیکي لېسې فارغ شوم. له فراغت سره سم د وظیفې په لټه شوم. ښه خبره دا وه چې له مسلکي مکتبونو فارغانو ته یې په اسانۍ وظیفې ورکولې...»

پیرمحمد کاروان د هېواد له بېلابېلو دولتي او غیر دولتي ادارو، رسنیو او موسسو سره دندې تر سره کړې دي. نوموړي دغه راز پښتو ژبې او ادب ته د پام وړ خدمتونه کړي. په پښتو نظم او نثر کې یې هم ډېر کتابونه چاپ شوي چې د ډېرو لوستونکو او مینه والو له تاوده هرکلي سره مخ شوي.

# اقتصاد

## د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۵,٦۰ |
| € | ۸٦,۲۰ |
| Rp. | ٥٤۱ |
| ₹ | ۱۰۸۰ |
| ¥ | ۱۰,۹۰ |
| £ | ۹٥,٦۰ |

## پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 12:00 |
| کابل - دوبی | 16:30 |
| کابل - ډهلي | 10:30 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

## بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

# راتلونکی کال د چین- افغانستان د دوستۍ ټولنه جوړېږي



په کابل کې د چین سفیر وایي، راتلونکی کال د افغانستان او چین د دوستۍ او ملګرتیا ټولنه په رسمي توګه پرانیستل کېږي.

د چین سفیر لیو جېن سونګ دغه څرګندونې پرون په کابل کې د دغه هېواد د اصلاحاتو او ور خلاصون د ٤۰ مې کلیزې په مناسبت یوې ناستې ته وکړې.

د چین حکومت ٤۰ کاله مخکې په ۱۹۷۸ ز کال کې په بېلابېلو برخو کې اصلاحات راوستل او خپلې دروازې یې نړیوالې سوداګرۍ او سوداګرو ته پرانیستې چې له امله یې دغه هېواد ډېر پرمختګ وکړ او اوس د نړۍ دویم اقتصاد لري.

دغه ناسته چې د چین په سفارت کې جوړه شوې وه، د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت پخواني سیاسي مرستیال حکمت خلیل کرزي، د بهرنیو چارو وزارت د دریم ریاست مشر سلطان احمد بهین، د سیاسي ګوندونو استازو، د څېړنیزو مطالعاتو د مرکزونو غړو، د پوهنتون استادانو او د رسنیو غړو پکې برخه اخیستې وه.

سفیر وویل، افغانستان او چین نه یوازې دا چې ګډ تاریخ لري، بلکې ګډ ارزښتونه هم لري چې باید وپالل شي.

هغه راتلونکې دوه کلونه د افغانستان او چین لپاره مهم وبلل او ویې ویل چې افغانستان په دې موده کې د خپلې خپلواکۍ سلمه کلیزه هم نمانځي.

سفیر وایي، دواړه هېوادونه باید د یو بل له تجربو زده کړه وکړي او په ډاګه یې کړه چې چین د افغانستان له غني فرهنګ او تاریخ څخه ډېر څه زده کړي دي.

لیو جین سونګ زیاته کړه چې هېواد یې له افغانستان سره په بېلابېلو برخو کې هر ډول مرستو او همکاریو ته چمتو دی.

نوموړي په دې برخه کې د افغانانو په مشرۍ او مالکیت د سولې پروسې یادونه وکړه او ویې ویل چې چین تل په دې برخه کې د افغان حکومت ملاتړ کړی.

هغه وویل، هېواد یې د افغانستان په چارو کې د نورو هېوادونو د لاسوهنو مخالف دی او چین د افغانستان له ټولو ملي پروسو ملاتړ کوي.

هغه زیاته کړه چې د چین، افغانستان او پاکستان ګډه درې اړخیزه غونډه چې څو ورځې مخکې په کابل کې ترسره شوه، بریالۍ وه او چین به د دې ډول غونډو دوامداره ساتلو لپاره خپلو هڅو ته ادامه ورکوي.

د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت پخواني سیاسي مرستیال حکمت خلیل کرزي د چین د اصلاحاتو، لاسته راوړنو او ورخلاصون په اړه تفصیلي معلومات شریک کړل او ویې ویل چې افغانستان او افغانان باید د چین له تجربو ګټه واخلي.

هغه زیاته کړه چې چین یوازې هر څه په خپله نه دي کړي، بلکې له نورو هېوادونو او ولسونو یې هم زده کړي او خپل هېواد یې پیاوړی کړی دی.

# د ټاکنو خپلواک کمېسیون: روانه اونۍ به هم د پاتې ۳ ولایتونو لومړنۍ پایلې اعلان نه شي



د ټاکنو خپلواک کمېسیون وایي، روانه اونۍ به هم د پاتې دریو ولایتونو د ټاکنو لومړنۍ پایلې اعلان نه شي.

د دغه کمېسیون مرستیال ویاند ذبیح الله سادات د دغه ځنډ لامل د دریو ولایتونو د رایو بیا شمېرنه او ځینې نورې ستونزې ښودلې.

نوموړي وویل: «د کابل په ګډون درې ولایتونه پاتې دي او د کابل ٦۰ سلنه رایې سیستم ته داخلې شوې او زموږ همکاران کار کوي، څو ټول معلومات سیستم ته داخل کړي او راتلونکې اونۍ د کابل په ګډون د دریو ولایتونو ابتدایي نتایج اعلان کړي». دا په داسې حال کې ده چې ټاکل شوې وه د لیندۍ تر ۱۰مې به د ټولو ولایتونو لومړنۍ پایلې اعلان شي، خو د ټاکنو خپلواک کمېسیون وایي، ځینو ستونزو او شکایتونو ته په کتو، نتایج په څو پړاوونو کې اعلانېږي.

د دغه کمېسیون د معلوماتو پر بنسټ، تر اوسه یې د ۳۰ ولایتونو ابتدایي پایلې اعلان کړې دي.

د ټاکنو خپلواک کمېسیون دغه راز وایي، د ولسي جرګې وروستۍ پایلې به د شکایتونو کمېسیون له څېړنو وروسته د یوې میاشتې په ترڅ کې اعلان شي.

خو د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون بیا وایي، د لومړنیو پایلو په اعلان کې ځنډ، د دوی پر مهالوېش هم اغېز کړی دی.

په ورته وخت کې د ازادو او عادلانه ټاکنو بنسټ وایي، د ټاکنو کمېسیون په خپلو چارو کې د پاتې راتلو له امله دغه ملي بهیر تر پوښتنې لاندې راوستی دی.

د دغه بنسټ اجرایوي رییس یوسف رشید وویل: «په خواشینۍ سره چې د انتخاباتو خپلواک کمېسیون د انتخاباتو له پروسې سره لوبه کوي او موږ له دې امله اندېښمن یو او خلک هم نور له دې بحثه ستړي شوي. بل اړخ شکایتونو کمېسیون دی چې شکایتونو ته رسیده‌ګي کوي او هغه هم وخت نیسي او که چېرې موږ په دلوې میاشت کې هم د انتخاباتو د نهایي نتایجو شاهد و اوسو، دا به یوه لویه لاسته راوړنه او بریالیتوب وي.»

# احمدي: د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر ژمنه کړې چې طالبان به له افغان حکومت سره خبرو ته حاضروي



د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قریشي په کابل کې د افغانستان د بهرنیو چارو له وزیر صلاح الدین رباني سره په لیدنه کې یو ځل بیا له خپل لوري د افغان سولې په برخه کې د همکارۍ ډاډ ورکړی.

د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت ویاند صبغت الله احمدي د دواړو وزیرانو تر ناستې وروسته مطبوعاتو ته وویل، قریشي په دې لیدنه کې ژمنه کړې چې هېواد به یې د سولې خبرو ته د طالبانو په بیا حاضرولو کې له افغان حکومت سره مرسته وکړي.

دا په تېرو دوو اونیو کې کابل ته د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر دویم سفر دی چې د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت یې د کابل او اسلام اباد ترمنځ د اړیکو د ښه کېدو نښه یادوي.

احمدي وویل، افغانستان هیله لري چې پاکستان د سولې خبرو ته د طالبانو په حاضرولو کې عملي ګامونه پورته کړي. د نوموړي په خبره، په افغانستان کې سوله او ثبات به د پاکستان د اقتصاد له غوړېدو سره هم مرسته وکړي.

هغه وویل: «موږ افغانستان ته د سولې راوستلو په برخه کې د پاکستان د تازه فعالیتونو شاهدان یو، خو موږ په دې برخه کې د پاکستان د عملي ګامونو پورته کولو په تمه یو. موږ په دې لیدنه کې د طالبانو او افغان حکومت ترمنځ پر مخامخ خبرو ټینګار وکړ، پاکستاني لوري هم ژمنه وکړه چې په دې برخه کې به هڅې وکړي.»

بلخوا له ولسمشرۍ ماڼۍ څخه په دې اړه په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي: «په دې کتنه کې دواړو لورو د دوو اړخیزو اړیکو او مسایلو، د افغانانو په رهبرۍ او مالکیت د سولې پروسې او د بین الافغاني مذاکراتو د راتلونکو اقداماتو په اړه بحث او خبرې وکړې او په دې برخه کې یې د سیمې او نړۍ د هېوادونو همکارۍ مهمه وبلله».

# پکتیاوال: حکومت د مچلغو بند جوړولو په تړاو خلک تېر باسي



د پکتیا ولایت د مچلغو بند چې له تېرو پنځلسو کلونو راپه دېخوا یې د سروې چارې پیل شوې، تر دې مهاله یې د عملي کار څرک نه لیدل کېږي.

د دغه ولایت ځایي اوسېدونکي وایي، هرځل چې ولسمشر دغه ولایت ته سفر کوي، خلکو ته د دغه بند د جوړولو ژمنه ورکوي، خو تر دې مهاله یې د رغونې لپاره عملي اقدام نه دی شوی.

ځایي اوسېدونکي وایي، حکومت په تشو ژمنو خلک تېر باسي او په یوه او بله بهانه یې چارې ځنډول کېږي.

د پکتیا ولایت اوسېدونکي دغه راز وایي، د سیمې خلکو د دې پروژې د امنیت ډاډ ورکړی، خو چارواکي بیا هم په همدې پلمه د بند د جوړولو چارې ځنډوي.

د پکتیا ولایتي شورا غړي هم وایي چې د دغه بند د جوړولو لپاره یې د ولایتي چارواکو ترڅنګ ولسمشر ته هم مراجعه کړې، خو غږ یې نه اورېدل کیږي.

د پکتیا د ولایتي شورا غړی سخي جان وفایار وایي: «موږ ته ټول دروغ وایي، کنه د امنیت هېڅ مسئله هم نشته، کراره کراري ده، دروغ راته وایي او په وعدو وفا نه کوي».

د اوبو او برېښنا وزارت مسوولان هم د دغه بند د جوړولو په برخه کې شته ستونزې مني، خو وایي، د بند د سروې چارې بشپړې شوې او ژر به یې عملي چارې پیل شي.

د اوبو او برېښنا وزارت د دغه بند د جوړولو دویم قرارداد له یوه پاکستاني شرکت سره کړی، خو ځایي اوسېدونکي وایي، له دوو اونیو تېرېدو وروسته لاهم سیمې ته د شرکت تخنیکي کارکوونکي نه دي حاضر شوي.

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
ایډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
لیکوالان: محمد نظیم سمون، جاوید کوټوال او شفیق همدرد
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲٥۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

المبارک
توریستي شرکت
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!
0786 55 55 91, 0786 55 55 92
0786 55 55 93, 0777 77 78 55
کابل د میوند جادې وروستۍ برخه، خوست تاور، لومړی پوړ.

سه شنبه د ۱۳۹۷ د مرغومې ځلورمه | د ۲۰۱۸ د ډسمبر ۲۵مه | دویم کال |۳۰۶مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۸ | ۱۵ | ۱۶ | ۱۱ | ۱۸ | ۱٤ |
| -۷ | -۱ | ۱ | ۲ | ۳ | -۱ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۲۸ | لمر ختل ۰۶:۵۷ | ماسپښین ۱۱:۵٤ | مازیګر ۰۳:۱۱ | ماښام ۰٤:٤۹ | ماخوستن ۰٦:۱۹

## نړۍ



# امانویل مکرون: له سوریې د امریکایي ځواکونو د وتلو په اړه د ټرمپ پرېکړې خواشینی کړی یم

۳

## د اندونیزیا د وروستي سونامي د وژل شوو کسانو شمېر ۲۸۰ ته ورسېد



اندونیزیایي چارواکي وايي، د دغه هېواد د تنګه سونډا په ټاپو کې د سمندري توپان یا سونامي له کبله د وژل شوو کسانو شمېر ۲۸۰ ته رسېدلی او تر زرو ډېر کسان ټپیان شوي دي.

چارواکي وايي، د ژوندي پاتې شویو کسانو د موندلو لپاره یې هڅې چټکې کړې او ښایي د وژل شویو کسانو شمېر له دې هم واوړي.

د دغه هېواد ولسمشر جوکو ویدودو هم تېره ورځ د پاندي ګلانګ په نوم له هغې سیمې لیدنه وکړه چې دا پېښه پکې رامنځته شوې وه. هغه په سیمه کې له رویټرز اژانس او نورو خبري شبکو سره په خبرو کې وویل، د سونامي توپان د علت په اړه څېړنې روانې دي.

نوموړي وویل: «موږ اوس نه شو کولای د دغه توپان په اړه نهایي خبره وکړو. ښایي علت به یې زلزله وي، خو موږ یې په سرچینه نه یو خبر. په دې اړه لا هم پلټنې روانې دي. په راتلونکي کې به د هوا پوهنې او ځمکپوهنې اداره د توپان او زلزلې د تشخیص وسایل او د خبرداري سیستمونه برابر کړي چې هر چا ته به د توپان تر راتګ مخکې خبرداری ورکړي.»

د دغه هېواد ولسمشر د دې پېښې په اړه خواشیني ښودلې او حکومتي ادارو ته یې امر کړی چې ژر تر ژره دې د دغه طبیعي افت پر وړاندې مقابلې ته متې بډ وهي.

د طبیعي پېښو پر وړاندې د مبارزې د ادارې ویاند سوتوپو پوروو نوګروهو وویل، دوی فکر کوي چې ځینې قربانیان به ښایي لا هم تر نړېدلو ودانیو لاندې وي.

تر توپان وروسته د لسګونو کسانو د ورکېدو، د سلګونو کورونو، هوټلونو او نورو ودانیو د ویجاړېدو راپورونه ورکړل شوي دي.

چارواکي وايي، دغه توپان تر ډېره د سوماترا ټاپو جنوبي سواحل او د جاوا لوېدیځې برخې ځپلې دي.

## د پاکستان پخوانی لومړی وزیر نواز شریف په اووه کاله بند محکوم شو



د پاکستان د فساد ضد محکمې د دغه هېواد پخوانی لومړی وزیر نوازشریف د خپلو عوایدو د سرچینو د پټ ساتلو په خاطر په اووه کاله بند محکوم کړ.

په اسلام اباد کې یادې محکمې پرون دغه حکم د هغه پر ضد د فساد د تورونو په دوو مواردو کې اعلان کړ. محکمې دغه راز نوموړی ته له دویم توره برئت ورکړ. خو نواز شریف بیا پر ځان لګول شوي تورونه رد کړي او ویلي یې دي چې کوم غلط کار یې نه دی کړی.

تر دې مخکې په جولای میاشت کې نوموړی په لندن کې د عصري اپارتمانونو د پېرلو له کبله په لس کاله بند محکوم شوی و.

هغه د دغه حکم په اړه د استېناف غوښتنه کړې وه او په سپټمبر کې له بنده په ضمانت خوشې شوی و.

نوازشریف تېر کال د خپلې صدراعظمۍ په دریېمه دوره کې وروسته له هغې له دندې لرې شو، کله چې د پاکستان سترې محکمې هغه د دغه مقام لپاره مناسب ونه باله.

## احزاب سیاسی: کمیسیون ظرفیت برگزاری انتخابات ریاست جمهوری را ندارد



احزاب و جریان‌های سیاسی، کمیسیون مستقل انتخابات را در برگذاری انتخابات ریاست جمهوری ناتوان می‌دانند و از حکومت می‌خواهند که در این نهاد اصلاحات به میان آورد.

این احزاب و جریان‌های سیاسی، فیصله کرده‌اند که در انتخابات ریاست جمهوری از نامزدی پشتیبانی خواهند کرد که نظام انتخاباتی را تغییر بدهد.

به گفتۀ این احزاب و جریان‌های سیاسی، با حکومت در تماس اند، تا در بارۀ به میان آمدن اصلاحات در کمیسیون مستقل انتخابات به نتیجه برسند.

همایون جریر، عضو کمیتۀ سیاسی احزاب و جریان‌های سیاسی گفت: «انتخابات پارلمانی گذشته با مشکلاتی که داشت ناکامی و عدم کفایت کمیسیون انتخابات را مسجل ساخته، به این خاطر احزاب و نهادهای مدنی جامعه جهانی و حتا دولت به این نظر استند که این کمیسیون با این ظرفیت نمی‌تواند انتخابات ریاست جمهوری را به صورت درستش و با موفقیت برگزار کند».

این احزاب و جریان‌های سیاسی از آن چه که تقلب‌های گسترده در انتخابات مجلس ولس جرگه می‌گویند، انتقاد می‌کنند. آنان می‌افزایند که نهادهای عدلی و قضایی باید به این مشکلات رسیده‌گی کنند. اسدالله سعادتی، عضو کمیتۀ سیاسی احزاب و جریان‌های سیاسی بیان داشت: «تقلب جرم است و کسانی که مرتکب تقلب می‌شوند یا متهم به تقلب می‌شوند، باید هرچه زودتر به نهادهای عدلی و قضایی معرفی شوند».

در همین حال، کمیسیون مستقل انتخابات از اصلاحات در این نهاد سخن می‌زند. مسؤلان این کمیسیون می‌گویند که در جریان چهار روز گذشته نزدیک به چهل تن بسته‌های معلوماتی انتخابات ریاست جمهوری را دریافت کرده‌اند، اما هیچ کس برای نامزدی در انتخابات ریاست جمهوری ثبت نام نکرده است.

میرزامحمد حق پرست، معاون سخن گوی کمیسیون مستقل انتخابات تصریح کرد: «تاکنون هیچ کسی به گونۀ رسمی برای انتخابات ریاست جمهوری ثبت نام نکرده است، البته منطق این است که اینان می‌خواهند اول معلومات را دریافت نمایند و سپس ثبت‌نام کنند».

## ژونـــد

## رټل ماشوم پر رواني ناروغۍ اخته کوي




هر مور او پلار غواړي چې بچی یې په هېواد او ټولنه کې یو ګټور شخصیت ثابت شي او له ښه ژوند څخه برخمن شي، خو دا هغه مهال شونې ده چې د ماشوم ذهني روغتیا بشپړه وي. داسې مور او پلار هم شته چې د ماشومانو د خوراک، څښاک او د دوی د بدني روغتیا خیال ساتي، خو په عین وخت کې بیا د دوی ذهني روغتیا په نظر کې نه نیسي. ارواپوهان او روغتیايي کارکوونکي دا مني چې په کوچنیوالي کې د ماشومانو رټل او یا له هغو سره په غوسه او قهر چلن د هغوی راتلونکي ته نه جبرانېدونکي زیانونه اړوي. څېړنې ښیي چې د کم عمره ماشومانو ذهني روغتیا د بدني روغتیا په څېر او له هغې لا زیاته اړینه ده. همدغه د دوی راتلونکې ټاکي.

څېړنه زیاتوي، کله چې د ماشومانو په مخ کې په ډار، غوسه او چیغو خبرې کېږي، دا د دوی ذهني روغتیا سخته اغېزمنوي، د دوی ذهن برعکس د هماغه کار کولو او یا د وخت په تېرېدو سره له هغې د سخت ځواب ورکولو هڅه کوي.

د څېړونکو په وینا، هغه ماشومان چې کوچنیوالی یې په ډار، غوسه او له چیغو وهونکو مور او پلار سره تېر شوی وي، دوی له رواني ناروغیو، ستونزو او ذهني پېچلتیا او اختلاط سره مخ وي چې دا هرڅه یې پر ژوند ډېر بد اغېز کوي.

## مېرمنې د مخ اضافي وېښتان څه ډول له منځه یوسي؟



په دې وروستیو کې د لیزر خبرې ډېرې کېږي، ډاکتران داسې اعلانونه خپروي چې ګواکې د لیزر په واسطه د مخ اضافي وېښتان د تل لپاره له منځه وړل کېږي، خو په حقیقت کې داسې نه ده. که غواړې چې د مخ اضافي وېښتان مو له منځه یوسی، نو د هګۍ سپین را واخلئ او د مخ پر اړوند برخه یې ومږئ چې دا کولای شي د مخ د اضافي وېښتانو په له منځه وړلو کې در سره مرسته وکړي.

که غواړې د مخ اضافي وېښتان مو له منځه یوسی، نو یو څه اندازه بوره او اوړه په اوبو کې سره حل کړئ او پر مخ مو یې ومږئ چې دا هم کولای شي د مخ د اضافي وېښتانو په له منځه وړلو کې در سره مرسته وکړي.

بل ځای ویل شوي چې د هګۍ سپین، بوره او اوړه سره ګډ کړئ او تر هغې پورې یې ووهئ، څو د خمیرې شکل او جوړښت غوره کړي او وروسته له هغه یې پر مخ ومږئ او تر هغې یې پرېږدئ، څو چې وچ شوی نه وي.

په یاد ولرئ، څو ځلې دغه کار تکرارول د دې لامل کېږي چې اضافي وېښتان مو له منځه لاړ شي.

بیا هم یادونه کوم چې لیزر کولای شي د وېښتانو وده کمزورې کړي، خو د تل لپاره یې له منځه نه شي وړلی.